AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسؤولیت محتوی، استعمال کلمات و جملات درین نوشته بدوش نویسندۀ مطلب میباشد

ولي الله ملکزی
۰۸/۰۲/۲۰۱۹

# رهبران وهي په بډه؟!

نن اتمه ورځ ده چې د امریکا په ټولو مهمو رسنیو کې د ویرجنیا ایالت ګورنر، ډاکټر رالف نارتم نوم دومره ښکته پورته کیږي لکه په ګرده نړۍ کې چې د ویلو او لیکلو لپاره نه کوم خبر شته او نه ناغیره. په ۱۹۸۴ کال کې چې هغه لا د طب محصل وو پخپل کلني کتاب کې یې دوه داسې انځورونه چاپ کړي وو چې د تعصب او اپارتاید څرک پکې له ورایه ښکاري. په یو تصویر کې یو سپین پوستی سړی ښکاري چې مخ یې قصدا تور کړی او په دوهم تصویر کې بل سړي ولاړ دی چې د متعصبو سپین پوستو د سازمان (کی کی کی) ځانګړی لباس یې په تن دی.
سره ددی چې والي صیب چورلټه منکر او وایی خدای دی نکړي، زه او داسې ګنده کار؟ خو بیا هم تر سخت فشار لاندی دی چې باید استعفا ورکړي ځکه چې ده د تور پوستو زړونو ته درد رسولی او د اساسي قانون د هغې مادې مخالفت یې کړی چې د امریکا ټول وګړي یو برابر ګڼل کیږي.
څه وخت وړاندی په لندن کې یو پیرنګي وزیر پدی خاطر له دندې ځان ګوښه کړ چې د پارلمان د غونډې له پیل څخه مازی څو دقیقې وروسته رارسیدلی او وکیلان یې په انتظار کې ساتلي وو. همدا رنګه وړم کال په جاپان کې د اور ګاړي وزیر پدی خاطر لمړی ښنه وغوښته او بیا یې د ځان وژنې هڅه وکړه چې د ریل ګاړي په پیښه کې یو شمیر خلک وژل شوي وو.
خو زموږ د واکمنانو او زور واکانو اخلاقي معیار او خپلو ژمنو ته ژمنیتا، تر دوئ لوړه او حتی بې جوړې ده. کله چې د ډاکټر نجیب الله د حکومت د زنکدن شیبې وې، نو زه د خیبر پښتونخوا په ګورنر هاوس او هم د پیښور د ځمکنیو په دارالایتام کې د عبوري حکومت په بڼه باندی د لاسلیک په مهال، د یو خبریال په توګه حاضر وم.
د مسودې لپاره په ګڼ شمیر مادو باندی ښه چغزي او کله هم ناشولته بحث روان وو، خو جهادي او تنظیمي مشران ظاهرا په دری ټکو راضي او یوه خوله ښکاریدل. اول دا چې دولتي او ولسي شتمنیو ته به د خوک د غوښې په څیر، هیڅوک لاس نه ور وړي. دویمه خبره دا وه چې د خلق او پرچم خونکارو باندونو ته دی عفوه اعلان شي ولی په سوچه اسلامي نظام کې به د نوک او سوک قدری ځای هم نه ورکول کیږي. او بل مهم ټکی دا وو چې له شوروپانو څخه دی د جنګ او یرغل تاوان وغوښتل شي.
خو د سبا ورځی لمر لا په غرغره وو چې پیښور ته د حزبیانو په اصطلاح، د جبل السراج د شوم او نامقدس ائتلاف د جوړیدو خبر راورسید. ډاکټر نجیب د ملل متحد دفتر ته پښې سپکې کړې او بینین سیوان په سپینه لس سیټه الوتکه کې جنیوا ته والوت. ۲۴ ګړۍ لا تیرې نه وې چې، بلاتشبه، د ابابیل د توتکیو په څیر د کابل په ښار داسې ګولۍ او مرمۍ را وغورځول پیل شول لکه دې خلکو چې د ابرهه لښکر ته د پیلانو چنده ورکړې وي.
ایله بیله، اوه اونۍ شوې وې چې یو جناب پداسې حال کې چې د صدارت او ارګ سړې او وریښمینې قالینې په تنظیمي ډاټسونو کې بار وې او هغه ورته د دلکشا له مانۍ څخه په ډیرې بې وسۍ سره کتل، د شمال د ملیشو سالار ته یې د خالد بن ولید لقب ور وبانه. بیا لا څو میاشتې تیرې نه وې چې بل جناب عالي د اریانا افغان هوایي بوینګ الوتکه د ایران په آیت الله ګانو په سیند وړي قیمت ور خرڅه کړه.
د پخواني مجرم نظام یو شمیر پوځي او ملکي غړي چې باید د خپلو کړنو په سزا رسول شوي وای، د ژبې او سمت په منګي کې د سپینو بازانو په شان رنګ او تر ننه همداسې جنده بریتونه او سرې سترګې پاتې شول. نژدې شپیته زره هغه کابلیان چې فاتحینو ته یې د ګلانو هارونه ډالۍ کړل او د دوئ له ناره تکبیر سره یې د الله اکبر نارې زمزمه کړې، د یو څو تنو د هوسونو قرباني او ځینی بې کفنه خښ شول. دادی ۲۶ کاله تیر شول خو نه چا ښنه وغوښته او نه چا پخپلې ګناه د پښیمانۍ، ستومانۍ او ملامتۍ احساس وکړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ډاکټر نجیب له را پرزیدو راهیسې، درې مختلف نظامونه راغلل او هر چا تر خپلې وسې پدې ځپل شوي ولس د ازمېښت سرچپه میچني وګرځولي. بېرغونه بدل شول، قوانین نوي شول او برګو نیکټایي ګانو د پکولونو ځای ونیو. ځلور ولسمشران، درې امیرالمؤمنینه، یو اجرائیه رئیس او نیم درجن مرستیالان وربانډې مسلط او واکمن شول.
مګر، وینې بهېږي، ملي هویت مو ټکنی شو او هره ورځ په متوسط ډول د حواء شل لوڼې کونډې او لس بورې کېږي. له الازهر او دیوبند څخه را نیولې د شور بازار د خانقاه او چنداول د تکیه خانو پورې ټول غټ غټ مفتیان پدې باور دي چې دغه جګړه د شرعیت له هیڅ اصل او متن سره اړخ نه لګوي، دا ورور وژنه او د پردو جګړه ده. خو بیاهم روانه ده.
په مسکو کې د تیرو دوو ورځو غونډو د ولس په زړونو کې هم هیلې وزیږولې او هم بې ځوابه پوښتنې او اندیښنې. ځکه پدغو ځلوېښتو ګډونوالو کې له درې ځلورو پرته چې د مسکو په دسترخوان یې لا ډیر پخوا شخوند وهلی وو، نور ټول داسې شازلمي او مبارکې څیرې را ټولې شوې وې چې د هجرت او جهاد په پیر کې د کرملین د نوم په اوریدو به له ویرې او کرکې وچې باقې ورتلې. نو اوس څرنګه د لینن د قبر په څنګ کې شیر او شکر او غاړه غړې شول؟
یقینا، پرته له هغو محدودو ډلګیو او افرادو چې د قبر د چنیجو په ډول په جنګ کې پړسیدلي او د سولې سره یې حساسیت یې په معافیت بدل شوی، نور ټول سوله غواړي او ژوند غواړي، ځکه چې ژوند ښکلی دی. ولې هغه څه چې تر اوسه لادرکه او ترې تم دي هغه په اکثرو مطرحو شخصیتونو او ځینو ټیکدارانو باندې د باور نه لرل او د ویسا نه شتون دی.
کنه نو هغه خلک له هر چا زیات د سولې ارمانجن دي چې په ټول ولایت کې یې یواځې ځلور ښځینه ډاکټرانې د دوئ د لوڼو او میرمنو درملنه کوي. هغه سیمې له جنګه کرکه لرې چې ناوې یې په ډولۍ کې او جنازه یې په هدیره کې بمبارېږي او هغه څوک د (والصلح خیر) په مبارک آیت عمل کوي چې ټوله کورنۍ یې د وحشت او ترهګرۍ په لمبو کې وریته او په ګمنامو قبرونو کې خښ دي.
وایي چې په کوم کلي کې یو سړی مړ شو، نو کلیوال او ګاونډیان به جوبه جوپه فاتحې ته ورتلل. هرې ډلې به چې سورت ولوست نو په آخر کې به یې وویل: دعا وکړئ چې الله دی وبښي، نو د مرحوم مشر ځوئ به سر وخوځولو چې باور مې نشي. کله چې دوه درې ځلې دا کار تکرار شو، نو د څنګ سړي ورته مخ کړ چې کور دې ژرنده شه، دا څه کوئ خلک دعا کوي او ته سر ښوروې چې یقین مه نه راځي. نو ده ورته په ځواب کې وویل: ما خپل پلار پیژنده، هغه د ښښنې ندی.
په همدغه کال (۱۹۸۴) کې چې ګورنر به شاید پخپل مخ سکاره وهلي وي، د سعودي ټولواک فهد بن عبدالعزیز د جهاد ټول مشران مکې ته ور وبلل او د کعبې د مبارکې خونې دروازه یې ورته پرانیسته، دوئ ننوتل او په چیغو چیغو یې وژړل. له هر چا سره دا تمه پیدا شوه چې ګواکې دغه رهبران به نور هیڅکله اختلاف او خپلمنځي شخړې ونکړي. خو یو له دغو مشرانو څخه اروابناد او ارواه پوه، مولوي صیب خالص وو چې د پیښوریانو په ژبه، سوچ یې اپوټه او له ټولو جلا وو، هملته کعبې ته مخامخ کښیناست، کتابچه یې را واخیسته او یو اوږد شعر یې ولیکه چې څو بیتونه یې دادي:

د روس په غلامۍ کې ازادي د وطن غواړي
دا هغه پرچمیان دي، چې خلقیان وهي په بډه
چې پیر کړي لارغلطه او دنیا ته په سجده شي
دوکه وربانډي نه شئ، مریدان وهي په بډه
ځان ساته (نبي خیله) چې تا هم په بډه نه کړي
رهبر چې شي بې لارې رهبران وهي په بډه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ